Asylum Support Partnership
help and advice

Pushto

March 2010

# د پناه اخیستنې لپاره غوښتنه

کله چې تاسو په بریتانیه (UK) کې د پناه اخیستنې له پاره غوښتنه کوئ، تاسې له چارواکو (د کورنیو چارو وزارت) څخه غواړئ چې تاسې د کډوال په توګه وپیژني. د کډوال په توګه پیژندنه په یو نړیوال قانون کښې بیان شوې ده چې د ملګرو ملتونو د کډوالو د وضعې (حالت) په اړوند د 1951 کال تړون په نوم یادیږي. د بریتانیې حکومت به دا پریکړه وکړي چې آیا تاسو د کډوال په حیث د ژغورنې وړ یئ او که نه. د دې لپاره چې د کډوال په توګه وپیژندل شئ، د بریتانیې حکومت باید خامخا دا خبره په نظر کې ولري چې تاسې داسې کوم دلیل لرئ چې تاسو په ریښتیا هم په خپل هیواد کې د توکم، مذهب، ملیت، د یوې مشخصې ټولنیزې ډلې غړیتوب یا سیاسي مفکورې له امله د څارنې ډار او وېرې لاندې یاست.

په متبادله توګه،تاسو ښایي د نورو بشر دوستانه یا د مجبوریت د عواملو له امله غواړئ په بریتانیه کې و اوسیږئ، چې له هغوی څخه انکار به د بشر د حقونو په اړوند د اروپایي تړون (European Convention on Human Rights) لاندې ستاسې له بشري حقونو څخه سرغړونه وي. ستاسې قانوني استازی باید وکړای شي تاسو ته ووایي چې آیا دا پر تاسو تطبیقیدای شي. د پناه غوښتنې او د بشر د حقوقو قوانین پیچلي دي. دا ضروري ده چې تاسې باید ښه قانوني سلا او استازیتوب ولرئ. د قانوني سلا او استازیتوب په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره، د دې رسالې 6 مخ وګورئ. کله چې تاسو د پناه غوښتنې تقاضا وکړئ، چارواکي به تاسو ته د یو 'پناه غوښتونکي' په توګه ګوري.

که عمر مو له 18 کلونو کم وي، او په یوازې ځان د پناه غوښتنه کوئ، په عمومي ډول به ستاسو تماس د ټولنیزو مرستو (social services) او یا هم د کډوالو لهیوې اداري سره وکړای شي.

## څوک د پناه غوښتنې کار پر مخ بیایي؟

په بریتانیه کې، د کورنیو چارو وزارت (Home Office) مربوط د بریتانیې د سرحدونو اداره - UK Border Agency) (UKBA د حکومت هغه اداره ده چې د پناه غوښتونکو سره دمرکو او د دوی د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو د ارزیابۍ مسوولیت په غاړه لري.

## زه د پناه غوښتنې لپاره څرنګه غوښتنلیک ورکړم؟

تاسې د پناه غوښتنې غوښتنلیک ور کولای شئ

- د کډوالۍ افسر ته بندر ته د رسیدو پر مهال، د ساري په توګه، په هوایي ډګر یا سمندري بندر کې. یا

- د برېتانيې د سرحدونو اداري دفتر ته په Croydon کې وروسته له هغې چې برېتانيې ته داخل شوئ. تاسو کيدای شي، د مثال په ډول، هېواد ته په غېر قانوني يا قانوني توګه د زده کړې، سياحت يا سوداګرئ له ويزې سره داخل شوي ياست. د Croydon د پناه غوښتنې د پلټنو څانګې (Asylum Screening Unit) پته پدې ډول ده:
  **Lunar House, 40 Wellesley Road, Croydon CR9 2BY**

دا خورا مهمه ده چې تاسو برېتانيې ته له رسيدو سره سم ژر تر ژره د پناه غوښتنه وکړئ، او دا چې هر څومره ژر ممکن وي د قانوني مشورې په لټه کې شئ.

## کله چې زه پناه وغواړم څه پېښيږي؟

UKBA د پناه غوښتنې درخواستونه د بيلابيلو لارو لاندې څيړي. د پناه غوښتنې ځينې غوښتنليکونه په ګړندۍ توګه تر نظر لاندې نيول کيږي. UKBA به له لومړۍ مرکې وروسته ، کومه چې د پلټنې مرکه نومول کيږي، دا فيصله وکړي چې ستاسو له درخواست سره څه ډول معامله وکړي. که چيرې تاسو اړتيا ورته ولرئ نو د ژباړن يا ترجمان بندوبست به هم وکړای شي. تاسو کولای شئ د نارينه او يا هم ښځينه ژباړن غوښتنه وکړئ، که تاسو دې ته ترجيح ورکوئ.

## که تاسو خپل د پناه غوښتنې غوښتنليک د 2007 کال د مارچ له 5 مې نيټې نه وروسته ورکړی وي، هيله

کيږي لاندې کرښې ولولئ. احتمال لري UKBA به ستاسو له غوښتنليک سره لکه څنګه چې په دې کتابګي کې راغلی دي، معامله وکړي.

## که تاسو خپل غوښتنليک د 2007 کال د مارچ له 5 مې نيټې نه مخکې ورکړی وي، ډېر زيات احتمال لري

چې ستاسو غوښتنليک دې په بيل ډول سره د برېتانيې د سرحدونو د اداري UKBA د دوسيې د څيړنې د رياست ( Case Resolution Directorate) لخوا تر څيړنې لاندې ونيول شي. که ستاسو غوښتنليک په دې ډله کې وي، تاسو کولای شئ په دې اړه نور معلومات چې UKBA ستاسو له قضيې سره څه ډول معامله کوي، په لاندې رساله کې ترلاسه کړئ: *آيا تاسو د 2007 کال د مارچ له 5 مې نيټې نه مخکې د پناه غوښتنې درخواست کړی دی او تاسو ته په برېتانيه کې د اوسيدلو حق نه دی درکړ شوی؟* http://languages.refugeecouncil.org.uk.

## د پلټنې په مرکه کې څه پيښيږي؟

د دې مرکې مقصد دا دی چې UKBA ستاسو د شخصي تفصيلاتو په اړه او دا چې تاسې څرنګه برېتانيې ته داخل شوئ ابتدايي پوښتنې وکړي. دوی پدې اړه چې ولې د پناه غوښتنه کوئ بايد له تاسو څخه تفصيلي پوښتنې ونه کړي.

### شخصي تفصيلات او اسناد

د پلټنې د مرکې په بهير کې به UKBA ستاسو د ګوتو چاپونه او ستاسې يو عکس واخلي، کوم چې به ستاسو د غوښتنليک ثبتونې کارت (Application Registration Card - ARC) باندې ولګول شي. دا کارت ثابتوی چې تاسو يو پناه غوښتونکی ياست او تاسو له دې نه د خدمتونو په لاس ته راوړلو کې، لکه مالي مرستې، کار اخيستلی شئ. که له تاسو سره تر لاس لاندې کسان وي، د مثال په توګه ستاسو د ژوند ملګرې او يا ماشومان، هغوی بايد له تاسو سره دې مرکې ته يو ځای لاړ شي ترڅو د دوی تفصيلاتو ته هم ستاسو په غوښتنليک کې ځای ورکړای شي. په ځينو قضيو کې به، UKBA ونه شی کړای چې تاسو ته د ARC کارت درکړي. د هغه په ځای به تاسو يو معياري د منلو ليک (Standard Acknowledgment Letter - SAL) ترلاسه کړئ چې ستاسو د پناه غوښتنې تصديق کوي.

اکثره پناه غوښتونکي يو ليک ترلاسه کوي چې د IS96 په نوم يادېږي. د دې معنی دا وي پدا سې حال کې چې چارواکي ستاسې د پناه غوښتنليک په اړه فيصله کوي تاسو ته په موقتي ډول په بريتانيه کې د اوسيدلو اجازه درکړای شوی ده، او له تاسو څخه توقع کيږی چې په دې موده کې په منظم ډول سره د راپور ورکولو يو مرکز ته ورشئ. چارواکي به وګوري چېٌايا له تاسې سره داسې قانوني سند شته چې نوم او مليت مو پرې ليکل شوی وي او تاسو هغه بريتانيې ته د داخليدلو لپاره استعمال کړی وي. دا کيدای شي چې پاسپورت او يا هم کوم بل د پيژندنې سند وي. که تاسو د پيژندنې کوم معتبر سند په لاس کې نه لرئ، بايد تر ممکنه حده واضح کړئ چې ولی داسې کوم سند نه لرئ.

## له کوم ځای نه راغلی ياست

د پلټنې په مرکه کې به چارواکي دا هم وڅيړي چې که کوم بل هېواد ، بريتانيه نه، بايد مسووليت ولري چې ستاسې د پناه غوښتنې غوښتنليک وڅېړي؛ د مثال په ډول، دا کيدای شی له دې امله وي چې تاسو د کوم بل هېواد له لارې سفر کړی دی، او UKBA فکر کوي تاسو کولای شول هلته د پناه غوښتنه وکړئ.

## ايا د غوښتنليک په اړوند مو ژر پريکړه کيدای شي؟

که چارواکي دا فيصله وکړي چې دوئ ستاسې د غوښتنليک په اړوند ژر پرېکړه کولای شي نو بيا به ستاسو غوښتنليک د ژر پريکړې د کړنلارې سره سم تر څيړنې لاندې ونيول شي. که قضيه داسې وي، کيدای شي چارواکي تاسې هارمونډز ورت د ايستنې مرکز(Harmondsworth Removal Centre) (که تاسو سړی ياست) يا يا رلزووډ د ايستنې مرکز (Yarl's Wood Removal Centre)(که تاسې ښځه ياست) واستوي ترهغه چې ستاسې د قضيې په هکله بشپړه پرېکړه وشي؛ که تاسو له دغو مرکزونو نه په يوه کي توقيف شوي يئ، نو بايد قانوني وکيل درکړای شي مګر ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنليک په اړه به ډير ژر پرېکړه وشي. البته، ټول هغه کسان چې قضيې يې ډير ژر فيصله کيږي، نه توقيف کيږي.

## أيا تاسو د پناه غوښتنې غوښتنه هر څومره ژر چې ممکنه وه ، کړې ده؟

UKBA به دا وګوري چې آيا تاسو بريتانيې ته د رارسيدو سره سم او هر څومره ژر چې ممکنه وي د پناه غوښتنې لپاره غوښتنليک ورکړی دی او که نه. که ځواب 'نه' وي، نو کيدای شي چې تاسې د هستوګنځي او/يا نور د ژوند لګښتونو لپاره حکومتي مرستې ترلاسه نه کړای شئ. د زياتو معلوماتو لپاره چې څرنګه د پناه له پاره ملاتړ په اړوند غوښتنليک ورکړئ، هغه رساله چې *د پناه غوښتنې مرستې لپاره غوښتنليک* نومېږي وګورئ.
http://languages.refugeecouncil.org.uk

سربېره پردې، احتمال لري دا لاندې څه د پلټنې په مرکه کې پيښ شي:

- تاسو ته بايد د UKBA د مسوول، چې د دوسيې د مدير (case owner) په نوم يادېږي، نوم او د ټيليفون تفصيلات درکړای شي، ځوک چې به له پيل نه تر پايه ستاسو د پناه غوښتنې دغوښتنليک مسووليت په غاړه ولري.د دوسيې مدير له تاسو سره د مرکې کولو او ستاسو د غوښتنليک په اړه د پريکړې مسوليت په غاړه لري. د دوسيې مدير به همدا رنګه ستاسو د خير ښيګڼې د اړتياوو ، او که ستاسو د غوښتنليک ځواب مثبت وی، نو ستاسو ته به د بريتانيې په ژوند کی د يو ځای کيدلو ترتيبات ونيسي، او يا هم که ستاسو غوښتنليک رد کړای شي نو ستاسو د ويستلو مسووليت په غاړه ولري. د دوسيې مدير تاسو او ستاسو د وکيل لپاره د اړيکو نيولو مرکزي شخص دی.

- د قانوني وکیل د ترلاسه کولو ترتیبات فرق کوي. کیدای شي تاسو ته د یوه قانوني وکیل د اړیکو تفصیلات او نیټه درکړای شي تر څو له هغه سره وګورئ، او یا هم کیدای شي تاسو ته د قانوني وکیلانو یو لست درکړای شي تر څو له هغوی سره اړیکې ونیسئ.
- تاسو ته باید د پلټنې مرکې د یادښتونو یوه کاپي درکړای شي.
- چارواکي به درته وواييي چې د پېژندنې ('induction') لپاره ورشئ تر څو غوره معلومات درکړي چې د پناه غوښتنې په پروسه پوه شئ او تر هغه چې په بریتانیه کې یاست خپل حقونه او مسوولیتونه وپیژنئ.

چارواکي به په 15 ورځو کې د هغو اسانتیاو په هکله (لکه مالي مرستې او هستوګنځی) چې تاسو یې مستحق ګڼل شوي یاست خبر درکړي. همدا رنګه دوی به د هغو غیر دولتي موسسو په هکله چې تاسو به د سلا لپاره ورسره تماس ولرئ معلومات درکړي او د هغو موسسو تفصیلات به هم درکړي چې پناه غوښتونکو ته قانوني مشورې ورکوي.

## د پناه غوښتنې په مرکه کې څه پیښیږي؟

د پلټنې له مرکې نه وروسته به چارواکي له تاسو وغواړي په یوه اوږده مرکه کې برخه واخلئ چې د پناه غوښتنې لاملونه درڅخه وپوښتي. دا خورا مهمه ده چې تر مرکې مخکې له یوه قانوني استازي سره د کتلو هڅه وکړئ. همدا راز که تاسې ژباړونکي ته اړتیا لرئ باید په مرکه کې د ژباړونکي د موجودیت غوښتنه وکړئ. که تاسې دا غوره ګڼئ چې د یوې ښځې یا نارینه لخوا مرکه درسره وشي، تاسې د هغې غوښتنه هم کولای شئ. په مرکه کې دا ډېره غوره ده چې څومره کولای شئ د خپلې پناه غوښتنې په اړوند مفصل معلومات ورکړئ. نور اضافي شواهد او ثبوتونه مثلاً طبي ریکارډ یا د ورځپاڼې راپورونه د هغو پېښو په هکله چې ستاسو په هېواد کې درته پېښ شوي، باید وسپارئ. دا ډېره مهمه ده هغه معلومات او ثبوتونه چې تاسو چارواکو ته ورکړي، یو بل سره توپیر ونلري او ستاسې د غوښتنې ملا تړ وکړي. تاسې باید دلته په بریتانیه یا بل ځای کې د خپلې کورنۍ په اړه معلومات ورکړئ، کوم چې کیدای شي په اینده کې ستاسې یا د هغوی لخوا په ورکړل شویو غوښتنلیکونو باندې اغیزه وکړي.

زیات احتمال لري چې ستاسو قانوني استازی د پناه غوښتنې په مرکه کې برخه وانخلي (د قانوني مشورې په اړوند د زیاتو معلوماتو لپاره 5 م مخ وګورئ). که د مرکې په جریان کې قانوني استازی حاضر نه وي نو له چارواکو څخه غوښتلی شئ چې مرکه د ټېپ د لارې ثبت کړي. که د ټېپ له لارې د مرکې ثبت کول غواړئ، نو تر مرکې 24 ساعته وړاندې دوی ته خبر ورکړئ. که له مرکې وروسته تاسو دا فکر کوئ چې له تاسو نه کوم اړوند معلومات پاته شوې دي، تاسو باید خپل قانوني استازي ته هرڅومره ژر چې کیدای شي خبر ورکړئ. ستاسو قانوني استازی یوازې 6 ورځې وخت لري چې اضافي اړوند معلومات وسپاري.

## توقیف او راپور ورکول

چارواکي دا واک لري چې یو پناه غوښتونکی د دوی د پناه غوښتنې د پروسې په هره مرحله کې توقیف کړي خو باید وښايي چې ستاسو توقیف ضروروي دی. زیاتره وخت، چارواکي هغه خلک توقیف کوي چې دوی فکر کوي وبه کولای شي د هغوی د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو په اړه ډېر ژر فیصله وکړي او یا کیدای شي فکر وکړي چې دا کسان به له دوی سره تماس و نه لري. که چارواکي وغواړي تاسې توقیف کړي، دوئ باید لیکلی خبر درکړي چې ولې تاسې توقیف کوي. کیدای شي تاسو په هغه پرېکړه اعتراض وکړلیشئ. تاسو باید قانوني سلا ترلاسه کړئ تر څو د خپل خلاصون په هکله بحث وکړئ. یوه موسسه چې د کډوالۍ توقیف شویو لپاره ضمانت (ضامن) (Bail for Immigration Detainees -BID) بلل کېږي یا د لیدونکو ډله څوک چې توقیف شویو خلکو سره ګوري، کولای شي معلومات درکړي چې څرنګه د

خپل خلاصون لپاره بحث وکړئ. لطفاً د BID ویبځای په http://www.biduk.org کې وګورئ. یا 3590 7247 020 .ته تلیفون وکړئ.

له اکثرو هغو پناه غوښتونکو څخه، چې توقیف شوي نه وي، غوښتل کیږي چې په منظم ډول د راپور ورکولو مرکز ته ولاړ شي. که تاسو اړ یاست چې د راپور ورکولو لپاره له 3 میله زیاته فاصله سفر وکړئ، نو کولای شئ د مرستې غوښتنه وکړئ تر څو د سفرکولو لپاره مصرف درکړای شي.

## کله چې زه پریکړې ته انتظار باسم څه پېښیږي؟

تاسو باید لکه څرنګه چې چارواکي غواړي هماغسې ټولو مرکو ته حاضر شئ. کومې فورمې چې چارواکي درکړي هغه باید ډکې او پر خپل وخت یې اړوند ځایونو ته وسپارئ. که دا کار ونکړئ نو معنی به یې دا وي چې چارواکو ستاسې پناه غوښتنه ردکړي. څکه چې تاسو د هغوئ د غوښتنې سره سم چلن ونکړای شو. دا ډیره مهمه ده چې په دې ټوله موده کې که تاسو خپل آدرس بدل کړئ، نو باید چارواکو ته بی له ځنډه خبر ورکړئ. تاسو کولای شئ چې دا کار په خپله وکړئ او یا هم له خپل قانوني استازي نه وغواړئ چې ستاسو له پاره یې هغه ترسره کړي.

## که زما غوښتنه رد شی څه پیښیږي؟

د پناه غوښتنې اکثریت غوښتنلیکونه رد کیږي، که څه هم ځینې د دغو غوښتنلیکونو به وروسته د مرافعه غوښتنې په مرحله کې کامیاب شي. که چارواکي ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک رد کړي، تاسو کولای شئ چې د هغې خلاف مرافعه غوښتنه وکړئ، که څه هم ځینې پناه غوښتونکي به وکړای شي چې یوازې له بریتانیې څخه د وتلو وروسته د هغې خلاف مرافعه غوښتنه وکړي. که چیرې ځینې نور دلایل وي چې ولې باید تاسو ته دا اجازه درکړای شي چې پاته شئ، لکه تاسو په دې مجبورول چې بریتانیه پریږدئ، کیدای شي چې ستاسو په بشري حقونو باندې تیری وی، دا خبرې باید په مرافعه غوښتنه کې ځای پر ځای کړای شي. دا ډیره مهمه ده چې تاسو له خپل قانوني استازي سره سم دلاسه اړیکې ونیسئ تر څو له تاسو سره مرسته وکړي چې مرافعه غوښتنه ثبت کړئ، څکه تاسو به اړ یاست چې دا کار په یوه محدود وخت کې ترسره کړئ.

که ستاسو غوښتنه رد کړای شي، UKBA به دا توقع ولري چې تاسو هیواد پریږدئ. که تاسو په خپله خوښه ولاړ نه شئ، کیدای شي چارواکي دا هڅه وکړي چې تاسو په زور دې کار ته مجبور کړي

## د اضافي غوښتنو کول

که ستاسې غوښتنه رد شوې وي، او تاسې د نورو مرافعه غوښتنو حق نه لرئ، کولای شئ پریکړه وکړئ چې نوي یا اضافي دلایل وړاندې کړئ چې تاسو ته ولې باید په بریتانیه کې د پاتې کیدلو حق درکړی شي. دا د «اضافي غوښتنو کولو» په نوم یادیږي. دا خورا مهمه ده چې مخکې تر دې تاسې حقوقي مشوره ترلاسه کړئ. اضافي غوښتنې یوازې په حضوري ډول کولای شئ.

**که تاسو خپل د پناه غوښتنې لومړنی غوښتنلیک د 2007 کال د مارچ له 5 مې نیټې مخکې ورکړی**

وي، او غواړئ چې اضافي غوښتنې وکړئ، کولای شئ د لیورپول د اضافي غوښتنو څانګې (Liverpool Further

Submissions Unit - FSU) خپلي غوښتني شخصاً وړاندي کړئ. تاسي باید 0151 237 0980 شميري ته په ټيليفون کولو سره د کتني وخت وټاکئ. که تاسي د وخت له اخيستلو پرته FSU ته راشئ، له تاسو سره به ونه ليدل شي. که تاسي ژباړن ته اړتيا لرئ، باید د کتني وخت د ټاکلو په مهال د هغي يادونه وکړئ.

**که تاسو خپل د پناه غوښتني غوښتنليک د 2007 کال د مارچ له 5 مې نيټي وروسته ورکړی وي، له تاسو غوښتل کيږي چې په خپله سيمه کې د منظم راپور ورکولو په وخت د اضافي غوښتنو اقدام وکړئ.**

ځيني پناه غوښتونکي چې په استثنايي معيارونو برابر وي کولای شي اضافي غوښتني د شخصي حضور په ځای د پستي له لاري وکړي. ددې لپاره چې معلومه کړئ ايا پدي ډله کې ياست له خپل نيژدې د کډوالو دفتر سره اړيکي ونيسئ.

## د پناه غوښتني جريان

دا لاندي انځور هغه عمومی لاره څرګندوي چې د پناه غوښتني يو غوښتنليک يې تعقيبوي. ستاسو کيدای شي چې بل ډول وي – مهرباني وکړئ د خپلي قضيې په اړه د نورو معلوماتو له پاره د سلامشورې له کارکوونکی او يا هم قانوني استازي نه پوښتنه وکړئ.




## قانوني مشوره

تاسو کولای شئ چې قانوني سلا مشوره له قانوني استازي نه ترلاسه کړئ. قانوني استازی کيدای شي چې ځان ته وکيلان، قاضيان، قانوني مشاورين يا قانوني استازي ووايي. که چيري تاسو پوره پيسي ونه لرئ مجبور نه يئ چې د

قانوني مشورې لپاره پيسې ورکړئ. ستاسو قانوني استازې کولای شي له دولت نه د ده د قانوني لګښت لپاره د پېسو غوښتنه وکړي. دا د قانونی مرستو (Legal Aid) په نوم يادېږي. که تاسو اړتيا ولرئ قانوني استازې بايد د ژباړن ترتيبات ونيسي.

که چېرې ستاسو پناه غوښتنه ونه منل شوه او تاسو غواړئ چې مرافعه غوښتنه وکړئ، قانوني استازې کولای شي ستا سو د قضيې له پرمخ بولوډېده وکړي که چيرې دوی دا احساس کړي چې ستاسو مرافعه غوښتنه د بريالیتوب معقول چانس نه لري. که چيرې دا پيښه شوه او تاسو احساس کړه چې يوه قوي دوسيه لرئ، کولای شئ د خپل قانوني استازې په تصميم باندې اعتراض وکړئ، او د قانوني خدمتونو کميسون (Legal Services Commission – LSC) ته عريضه وکړئ. ستاسو قانوني نماينده بايد د عريضې فورمه درکړي او درته ووايي چې دا به څنګه وسپارئ. که په سکاټليند کی ژوند کوئ نو هلته قانوني ترتيبات بل ډول دي. د سکاټليند د کډوالو کونسل Scottish Refugee Council به وکولای شي تاسو ته په دې اړه مشوره درکړي.

د بريتانيې په ځينو برخو کې ، هغه قانوني نماينده ګان کم دي چې د پناه غوښتنې کارونه کوي. دا پدې معنی چې کيدای شي تاسو په بله سيمه کښې د خپل وکيل د ليدلو له پاره اړ ياست چې سفر وکړئ. که تاسې د پناه غوښتنې مرسته تر لاسه کوئ، او ستاسو د اوسيدلو په سيمه کی کوم قانوني استازی نه وي، نو کېدای شي ستاسې وکيل به تاسو ته د هغه سره د ليدلو له پاره د سفر کرايه درکړي.

که چيرېتاسو د خپل هستوګنځي په بدلولو سره له هغه ځای نه چې لومړی مو د پناه غوښتنې مطالبه کړې وه بلې سيمې ته تللې ياست ، تاسو کولای شئ د خپل قانوني نماينده د بدلولو غوښتنه وکړئ او په خپلې نوي سيمه کښې بل وکيل د ځان لپاره وټاکئ، ځکه د ليدنې کتنې لپاره سفر کول کيدای شي چې ستونزمن وي.

دا مهمه ده چې تاسو د لوړ خاصيت قانوني مشورې ترلاسه کړئ. ستاسو قانوني استازی بايد له کومې داسې يوې موسسې څخه وي چې د مهاجرت په قانون کې د قانوني خدمتونو له کميسون (LSC) سره اړيکې ولري يا يو مشاور وي چې د مهاجرت د خدمتونو د کمېشنری له دفتر سره (Office of the Immigration Services Commissioner - OISC). ثبت شوی وي.

دغه موسسې بنايي چې يوه او يا هم دواړه لاندينی نښې ولري:

تاسو کولای شئ د OISC سره دهغو منظور شويو موسسو په هکله کومې چې د پناه غوښتنې د قانون په اړه مشورې ورکوي تماس ونيسئ. ټيليفون: 0046 000 0845 يا د OISC ويب پاڼه وګورئ: http://www.oisc.gov.uk

## په انګليند او ولز کې قانوني مشوره

د حقوقي مشورې ټولنه (Community Legal Advice) په انګلستان او ويلز کې د قانوني نماينده ګانو لسټ نشروي. تليفون 4345 345 0845 يا يې له ويب پاڼې څخه ليدنه وکړئ: http://www.communitylegaladvice.org.uk

## په سکاټلنډ کې قانوني مشوره

د سکاټلنډ د قانون ټولنه (Law Society of Scotland) په سکاټلنډ کې د د قانوني نماینده ګانو لسټ نشروي.
ټیلیفون: 7061 226 0131 تماس ونیسئ یا یې ویب پاڼه وګورئ: http://www.lawscot.org.uk

## پۀ شمالي ایرلنډ کښې قانوني مشوره

د شمالي ایرلنډ د حقوقي خدمتونو کیمسون (Northern Ireland Legal Services Commission) په شمالي ایرلنډ کې د قانوني استازیو یو لست خپروي. ویب پاڼه وګورئ: http://www.nilsc.org.uk

## د قانوني استازیو د پیدا کولو نورې لارې

**د پناه مرسته (Asylum Aid)** http://www.asylumaid.org.uk

د مشورې کرښه: 9264 7354 020 دوشنبه: د ماسپښین له 2 نه د ماسپښین تر 4:30 بجو پورې پنجشنبه: د سهار له 10 نه تر 12:30 بجو پورې

**د مهاجرت مشورتی خدمت (Immigration Advisory Service)** - http://www.iasuk.org

**د مهاجرت په قانون کښې د کار کوونکو ټولنه (Immigration Law Practitioners Association)**
http://www.ilpa.org.uk

**د قانون د مراکزو فدراسیون (Law Centres Federation)** http://www.lawcentres.org.uk

**د کډوالو او مهاجرینو عدالت (Refugee and Migrant Justice)**
http://www.refugee-legal-centre.org.uk

## آیا تاسو له خپل قانوني استازي نه خوښ نه یاست؟

که تاسو له خپل قانونی وکیل نه خوښ نه یاست او دا احساس کوئ چې هغوی ستاسو نمایندګي په ناسم او بد ډول سره کړې ده، تاسو کولای شئ چې د کډوالو د خدمتونو کمیشنر دفتر ته شکایت وکړئ. په دې شمیره ټیلیفون ورته وکړئ 0046 000 0845 او یا هم د دوی انټرنیټ پاڼه وګورئ: www.oisc.gov.uk

*په دې رساله کې معلومات د قانون بشپړه تشریح نده بلکه یوازې لارښود نه ده. مهربانی وکړئ، د مفصلې مشورې لپاره قانوني مشوره وغواړئ.*

Asylum Support Partnership consists of:

North of England Refugee Service, charity number: 1091200 www.refugee.org.uk
Refugee Action, charity number: 283660 www.refugee-action.org.uk
Refugee Council, charity number: 1014576 www.refugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council, charity number: SC008639 www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Welsh Refugee Council, charity number: 1102449 www.welshrefugeecouncil.org